(c) ketabton.com: The Digital Library

حب دَ دنیا څه دَی، سر دَ کل واړه بدیُو — بده ژبه بیل کا، تا له خپلو له پرَدَیُو
هر چه غل کا سیر دِی دَ هغو سَره مَل مشه — مل دَ غلو کا سیرو په شماره دَی هم دَ دیو
هر چه بد شومت دِی خپل شومت ور لَره بس دی — تل به باندِی تاخت وِی دَ خپل فعل دَ غدیو
یَو نشه په زرکی چه ئې خوی دَ آدمزاد وِی — هر چرته چه گورې خلق سر شه په بدیو
خاندِی په دادور لیونِی په هوښیارانو
پیچی مسخرې کا بې خبر په بخردیو

دَ شهی زلفو مختولو — سر هوا پریشانو طولو[1]
چه ئې لافی هر سَړی کا — عشق آسان ندِی فصولو
ځما راز مو په ملک خپور کړ — اې ځما اوښیو پډُولو
په کوڅه کی دَ دلبرُو — حساب نشته دَ مقتلو
تاسو مشوَی سَرَه ټولی — گنبی گنبی دَ زړه نولو
دا خبرِی چه خوشحال زده
نه دِی دا دَ نامعقولو

دَ ښادمنو په خندا ړو[2] — د غمجنو په ژړا ړو
دَ رندانو په رندیَ — د شیخانو په تقوا ړو
دَ وصال په سل خوښیَ — د هجران په زر بلا ړو
د بهار په ښو گلونو — د بلبلو په نوا ړو
چه ترې سبر ونی هیڅ دِ — په هغه قد بالا ړو
چه مکحولِی دِی له نازه — په هغو سترگو شهلا ړو
چه نریَ تر ویښته دَه — په هغه باریکه ملا ړو
چه عاشق ور پسی مرینه — په هغه جمال زیبا ړو
چه راځِی دَ یار له لوریه — په هغه باد صبا ړو
چه پیغام راوړِی دَ وصل — دَ هغه قاصد په پا ړو
چه دوهمه پکښی نشته — د رشتینو په رشتیا ړو
پدا هونبره سوگندُونه — صد هزار ځله بیا بیا ړو
چه تر ځان پتا مین یم
زه خوشحال ختک پتاړو

راته مه وایه پتا ړو[3] — چه پتا نه ړو په چا ړو
ته ځما دَ سترگو تور یې — پدا تورو سترگو ستا ړو
مخ دِ ورځ زلفی دِ شپه دی — په سبا ړو په مسا ړو
په جهان کی می ځان ته یې — نه چه نور، پتا جانا ړو
یاد می ته یې په خاطر کی — هر زمان پخپل مولا ړو

---

۱. یعنی اوړدو.
۲. ړو په پښتو کی د قسم کلمه ده.
۳. دا بدله له یوې قلمی نسخې را نقل شوه، په نورو کی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هعې یارۍ څه باور خوشحاله
چه پیوند ئې په وینښته سَرَه آمستی[١]

دَ یار غم کله اغیار وته وَلاړ دَی
دَ یار غم خو هم خپل یار وته وَلاړ دی

د هغه بادشاه له ملکه عالم تښتی
چه د ظلم و آزار وته وَلاړ دی

بې همت سړی له هر کاره غړیږی
همت ناک سړی هر کار وته وَلاړ دی

د هغه شاعر مخ تور شه چه په طعمه
و هر وَر و هر دربار وته وَلاړ دی

خلق هیڅ را خبر ندی چه په عشق کښ
څو فکرونه و ما خوار وته وَلاړ دی

چه دِ توری زلفی ووینم حیران شم
په حیرت سړی تور مار وته وَلاړ دی

په بورجل باندی دِ هسی نا قرار شم
لکه څوک چه وگلزار وته وَلاړ دی

لیونی خوشحال په نن دَی دیدن ورکړه
د سبا فکر هوښیار وته ولاړ دی

دا خونِی سترگِی چه ته لری دلبری
په کشتن به خلقی کاندی ډېری

لا به کله څما خوار طالع مدد کا
چه به ستا سترگِی په ما شِی برابری

په خرام خرام راځه چه بوی ئی واخلم
دواړه زلفی په عنبرو معنبری

په عارض دِ دَ زړه داغ دَ لاله ورکړ
یاسمین دی دَ پیغور کړل سمنبری

باز دَ جال کوتره وَوینیِ پر دَرشِی
تپوسی باندی پیری کا لر و بری

گوره چرته وی په چرته گرزیدلی
چه فراق کړی هونبره اُوښِی را خبری

محتسب دِ څنِی لیری لیری گرزِی
مست خوشحال څخه کوتک دَی د ډنبری[٢]

دا معنی دِی زورَوری [٣]
سمِی چیرِی دِ خبری

څوک چه لب کا سَره بیارته
څنِی توئی شِی شکری

څوک چه کنبیوزی په ویَلُو
واړه وایی خاوری سَری

دَ مشکنبنو په بازار کښ
تویی نه وی مرغلَری

خپلی خپلی شلومبی ستایی
چه شلومبې پلوری گجُری[٤]

هر هر سکنې ئې وَگوره
په هنر زَغیږِی زغری

ډیر دِ ښه ووې خوشحاله
بس کړه مه درومه ډیر لیری

دا څه بارخونه دَی ستا دَ تورُو زلفو لاندی
پروتی دی په گلو د سنبلو پاښی تاندی

تل ئې په طلب وم آخر خوښ له خپله بخته
هسی یار می بیا موند چه عالم ئې کیسې[٥] کاندی

قیس وُکه وامق وُکه فرهاد وُکه خسرو وُ
هر چه عاشقی کا[٦] سل رحمت په واړو باندی

نور خلق فانی دِی که باقی دِی هم هغه دی
هر چه په فانی دنیا یادیږِی وروستو وړاندی

---

١. محشی ورته لیکلی یعنی تړلی.
٢. دیوه ونه ده چه د تور مرچ غوندی دانې لری.
٣. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
٤. هغه خواری ښځی چه شلومبی یا شیدی خرخوی.
٥. دا کلمه په تولو نسخو کښ دغسی ده، یا به کیسۀ وی په معنی د معما او چیستان، یا به مفغن د قصې وی.
٦. هر چه عاشقان دی.

